چا چې د مازديګر لمونځ پريښوده نو يقينا چې عمل يې برباد شو

له بريده بن الحصيب رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې: د مازديګر لمونځ وختي وکړئ، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: « چا چې د مازديګر لمونځ پريښوده نو يقينا چې عمل يې برباد شو».

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د مازديګر د لمانځه په اړه خبرداری ورکړی چې په قصدي توګه له ټاکلي وخت څخه وروسته ادا شي (قضا شي) او دا چې چا دا کار وکړ نو عمل يې باطل او فاسد شو، او بې ځايه لاړ.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6261